
قرآني بيان

# د تَوحِيد دَلائِل

د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمامِ مساجد
(دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

**25-July-2025**

د جُمعَةُ المبارک
(For Islamic Brothers)



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 25 جولائي، کال 2025ء ( 29 محرم الـحرام، کال 1447ھ) د جُمعَةُ الـمبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# د تَوحِيد دَلائِل

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ـــ د زمکې او د اسمان پهٔ پيدائش کښې حِکمتونه
- ـــ د اِمامِ شافعي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه يوه مختصره مناظره
- ـــ سمندر کښې پهٔ چا پورې اُميد تړل پکار دي ---؟
- ـــ څوک چې خپل مقصد پوره نهٔ کړي،هغه بے کاره وي

پيشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبه : بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback* :+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖنَ ؕ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ اللهِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ اللهِ وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ اللهِ

نَوَیْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِیَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضیلت

د رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالي شان دے: چا چې دا ووئیل: جَزَی اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَّا هُوَ اَهْلُهٗ نو 70 فرښتے به تر زرو [1000] ورځو پورې د هغهٔ د پاره نیکئ لیکي۔ [1]

مومنو! پڑھتے نہیں کیوں اپنے آقا پر درود | ہے فرشتوں کا وظیفہ اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَام [2]

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّ السَّمَآءَ بِنَآءً ۪ وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْكَرِیْم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

خوېږو او محترمو اِسلامي ورونو! مونږه د وړومبۍ سیپارې، د سُورَةُ البَقَرَة، د آیت: 22 د اوریدو سعادت حاصل کړو، د دې نه پهٔ مخکښینو آیتونو کښې یو څو څیزونه بیان شول: ❀ الله پاک یو دے ❀ هغهٔ تاسو هم پیدا کړئ ❀ ستاسو نه مخکښې خلق یې هم پیدا

---

[1] …معجم اوسط، جلد:1، صفحه:82، حدیث:235۔

[2] …قبالۂ بخشش، صفحه:164۔

کړۀ ✿ صرف هم هغه يو خُدائے د عبادت لائق دے ✿ ځکه اے خلقو! صرف او صرف هم د هغه رَبِّ کريم عبادت کوئ! ✿ او دا هم ياد ساتئ چې د دې عبادت فائده به الله پاک ته نۀ وي چې هغه خو بے نيازه دے بلکې د عبادت فائده به هم تاسو ته وي چې ستاسو د تقوىٰ په شان بے بها دولت نصيب شي-

اوس دا آيت مبارک کوم چې زمونږه ننی موضوع ده، په دې کښې د الله پاک د يو والي او صرف د هغه يو ربښتوني خُدائے د عبادت لائق کيدو يو څو نور دليلونه ذِکر کړے شوي دي- نو اِرشاد دے:

الَّذِیْ جَعَلَ لَكُمُ الْاَرْضَ فِرَاشًا وَّ السَّمَآءَ بِنَآءً ۪ وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً فَاَخْرَجَ بِهٖ مِنَ الثَّمَرٰتِ رِزْقًا لَّكُمْ ۚ فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّ اَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴿۲۲﴾

(پاره:1، سورة البقره:22)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: چا چې ستاسو د پاره زمکه بستره او اسمان چت جوړ کړو، او هغۀ د اسمان نه اوبۀ را او ورولې بيا يې د هغه اوبو په ذريعه ستاسو د خوراک د پاره ډيرې ميوې پيدا کړې نو تاسو د پوهيدلو باوجود الله سره شريکان مۀ جوړوئ-

يعنې اے خلقو! لږ غور خو وکړئ! يو الله پاک، ربښتونے خُدائے ✿ حقيقي خُدائے هم هغۀ خو دے کوم چې تاسو پيدا کړئ ✿ ستاسو پلار نيکونه يې هم پيدا کړۀ، صرف دومره نۀ، د کرم د پاخه کرم يې وفرمائيلو ✿ په اِحسان پسې اِحسان يې دا وفرمائيلو چې ستاسو د ژوند د پاره يې قِسما قِسم نعمتونه هم عطا کړل ✿ هم هغه خدائے دے چا چې زمکه ستاسو دپاره بستره جوړه کړه ،اسمان يې ستاسو د پاره چت جوړ کړو ✿ هم هغه باران وکړو ✿ هغۀ د زمکې نه ميوې، ګلونه، بوټې، سبزيانې وغيره رازرغونې کړې، دا هر څۀ د چا د پاره؟ صرف ستاسو د پاره چې تاسو په زمکه کښې ګرځئ راګرځئ، دلته استوګنه اختيار کړئ! د ميوو، ګلونو، بوټو وغيره نه طاقت حاصلوئ! ✿ غرض دا چې رَبِّ کائنات تاسو د يو خاخکي نه اِنسان هم جوړ کړئ، تاسو ته يې ژوند هم درعطا کړو ✿ بيا

د ژوندي اوسیدو د پاره يـې درته ټول اسباب هم درکړۀ! نو ووايئ چې آيا د الله پاک نه علاوه هم داسې څوک شته کوم چې دا هر څۀ وکړي؟ نا--!! بالکل نا، صرف هم هغه رښتونے خُدائے، د قدرتونو والا رَبّ دے- څکه څوک د هغۀ شريک مۀ ګرځوئ! صرف هم د هٰغه يو خُدائے پاک عبادت کوئ! (1)

سب کا پیدا کرنے والا، میرا مولا، میرا مولا
سب سے افضل، سب سے اعلیٰ، میرا مولا میرا مولا
سب کو وہ ہی دے ہے روزی، نعمت اس کی، دولت اس کی
رازِق داتا، پالن ہارا، میرا مولا میرا مولا
ہم سب اس کے عاجز بندے، وہ ہی پالے، وہ ہی مارے
خوبی والا، سب سے نرالا، میرا مولا میرا مولا
طاعت، سجدہ اُس کا حق ہے، اُس کو پُوجو وہ ہی رب ہے
اللہ، اللہ، اللہ، میرا مولا میرا مولا

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللّٰہُ علٰی مُحَمَّد

## د زمکې او اسمان پۀ پيدائش کښې حِکمتونه

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! غور وکړئ څومره پۀ ښکلي او بالکل پۀ اسان انداز کښې د توحِيد پۀ مسئله باندې پوهه کړے شو، مونږ له الله پاک پيژندل پکار دي، پۀ دې کښې هيڅ مشکل نشته، بڅپله هم که پۀ خپل وجود باندې غور وکړئ نو خُدائے به وپيژنئ، خپل ګير چاپيره پۀ موجود کائنات باندې که غور وکړئ نو خُدائے به وپيژنئ- لږ غور خو وکړئ!

دا زمکه د څومره قدرتونو والا خُدائے جوړه کړې ده ❀ الله پاک زمکه نۀ ډيره سخته جوړه کړه، نۀ يـې ډيره نرمه وساتله، که زمکه د خټې پۀ شان نرمه وے نو مونږ به دلته نشو

1... تفسيرِ نعيمی، پارہ:1، البقرہ، زيرِ آيت:22، جلد:1، صفحہ:216214 خلاصةً۔

ايساريدے، كه د غرونو او د اوسپني په شان ډېره سخته وے نو بيا هم زمونږه دلته پاتې كيدل گران وو ❁ الله پاک زمكه ډېره گرمه هم پيدا نۀ كړه او ډېره زياته يخه يــې هم پيدا نۀ كړه، كه زمكه ډېره گرمه وے نو مونږ به د گرم والي په وجه مړۀ كيدو، كه ډېره زياته يخني وے نو مونږ به د يخنۍ د لاسه مړۀ كيدو ❁ زمكه يــې د بسترې په شان هواره جوړه كړه، كه دا زمكه د ديوال په شان وه نو مونږه به دلته څنګه پاتې كيدو ❁ اِمامِ غزالي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: الله پاک زمكه د شمال طرف نه اوچته او د جنوب طرف نه ښكته جوړه كړې ده، په دې باندې په زمكه كښې اُترائي[ښكته والے] پيدا شو، كه داسې نۀ وے نو چې څومره باران به كيدو، ټولې اوبۀ به په زمكه باندې ايساريدې، ټوله زمكه به د اوبو نه ډكيدله او دلته به ژوند تيرول ممكن نۀ وو، دا د رَبِّ كريم كمال حِكمت دے،چې زمكه كښې‌يــې اُترائي [ښكته والے] جوړ كړو، په كومې چې اوبه بهيږي او سمندر ته غورځيږي ❁ هُم داسې په زمكه كښې د جذب كيدو صلاحيت كيښودے شو، زمكه هر يو څيز په ځان كښې جذب كوي، كه تاسو ليدلي وي نو چې چرته څناور مړ شي نو سخت بد بوئي كوي، بيا په ورو ورو د زمكې بيكټيريا هُغه څناور خوري او بد بوئي ختميږي، اندازه ولګوئ چې د شروع نه تر اوسه پورې به څومره څناور مړۀ شوي وي، اوس هم په زرګونو مړۀ كيږي، كه په زمكه كښې دا د جذب كيدو صلاحيت نۀ وے، د زمكې دې بيكټيريا مړۀ شوي څناور نۀ خوړل نو ټوله دُنيا به څومره په مشقت كښې وه؟ دلته به ژوند تيرول څومره گران وو خو قربان شم! الله پاک د ډېرو قدرتونو والا دے، د ډېرو حكمتونو والا دے، په دې دُنيا كښې چې د كومو كومو حكمتونو خيال ساتلے شوے دے، زمونږه سوچ هم هغې ته نشي رسيدے، بيا ووايئ چې دا كافران او مشركان چې كوم څيزونه خدايان مني، كومو ته چې سجدې كوي، په هغوئي كښې داسې يو هم شته چې داسې زمكه جوړه كړي؟ نشته، بالكل نشته، هم دا يو رښتونے حقيقي خالِق دے، هغه زمكه جوړه كړې، هغۀ اسمان جوړ كړے۔ (1)

---

1 ...رسائل امام غزالی، الحکمۃ فی مخلوقات اللہ عزوجل، باب فی حکمۃ خلق اللہ، صفحہ:10 ملتقطًا۔

تعریف اس خدا کی جس نے جہاں بنایا
کیسی زمیں بنائی، کیا آسماں بنایا
پاؤں تلے بچھایا کیا خُوب فرشِ خاکی
اور سر پہ لاجْوَرْدی اِک سائباں بنایا
خوش رنگ اور خوشبو گُل پُھول ہیں کھلائے
اس خاک کے کھنڈر کو کیا گلستاں بنایا
ہر چیز سے ہے تیری کاریگری ٹپکتی
یہ کارخانہ تُونے کب رائیگاں بنایا

بیا لږ غور وکړئ چې پهٔ دې دُنیا کښې ټول ژوند پهٔ اوبو باندې دے- بیا د اللّٰه پاک د قدرت نظارې ته وګورئ! پهٔ دې دُنیا کښې څومره خلق اوسیږي؟ وئیلے کیږي چې 8 اربه انسانان دي- بیا وئیلے کیږي چې پهٔ دُنیا کښې چې څومره انسانان دي، د هغې نه پهٔ لس چنده زیات څناور دي- د دې مطلب دا شو چې پهٔ دُنیا کښې 80 اربه څناور دي- بیا وئیلے کیږي چې پهٔ دُنیا کښې چې څومره څناور دي، د هغې نه لس چنده زیاتې مرغۍ دي، څکه 800 اربه مرغۍ دي او بیا پهٔ اربونو، پهٔ کهربونو ونې دي، د دې ټولو روزانه اوبهٔ پکار وي او د اللّٰه پاک شان ته وګورئ چې دې ټولو ته روزانه اوبهٔ ورکولے کیږي- دُنیا ته د اوبو د راتلو صرف یوه لار ده او هغه ده: باران- تاسو به وایئ چې پهٔ دُنیا کښې خو کوهیان هم دي، ابشارونه هم دي، دریابونه هم دي- خو لږ سوچ وکړئ چې دا ټول څنګه جوړ شوي دي؟ راځئ لږ څان پرې پوهه کړئ! د دې زمکې تقریباً 67 فی صده حصه اوبهٔ دي خو هغه اوبهٔ زمونږه د اِستعمال نهٔ دي، هغه د سمندر اوبهٔ دي، ډیرې تروې او مالګینې دي- خو د خُدائے شان ته وګورئ چې د دې اوبو نه بخارات جوړیږي او دا د اسمان طرف ته څي- د قدرت عجیبه کرشمې ته وګورئ! روزانه پهٔ کروړونو ګیلنه اوبهٔ بره څي، پهٔ وریځو کښې جمع

کيږي، پهٔ تاسو کښې به ډېرو خلقو پهٔ جاز کښې سفر کړے وي، چې کله مونږه پهٔ جاز کښې د وريځو نه بره الوځو نو د دې کروړونو ګيلنه اوبو د ستور کيدو د پاره څهٔ ټينکی وغيره پهٔ نظر نهٔ راځي، دا چرته ستور کولے کيږي؟ [1] پهٔ وريځو کښې دننه--!! سُبْحٰنَ الله!

**نور غور وکړئ!** که مونږ ته اوبهٔ صفا کول وي نو د کروړونو روپو پلانټ لګولے کيږي، پهٔ هغې کښې کيميکل اچولے کيږي، د هغې باوجود يو څو ليټره اوبهٔ صفا کيږي او هغه هم ټُغه همره خوږې نهٔ وي لکه څومره خوږې اوبهٔ چې پهٔ باران کښې راوريږي- د غور مقام دے: اوبهٔ چې کله بره لاړې شي نو ډېر تروې او مالګيني وې خو چې کله د باران پهٔ شکل کښې واپس راغلې نو بهترين منزل واتر ترينه جوړې شوې او راکوزې شوې- دې اوبو ته پهٔ قرآنِ کريم کښې هم مبارکې اوبهٔ وئيلے شوې دي-

اوس دلته يوه بله مسئله ده، بخارات د سمندرونو نه الوځي، ځکه به باران هم هلته وريږي چرته چې سمندرونه دي خو پهٔ دُنيا کښې ډېر داسې ښارونه، داسې ملکونه دي چرته چې هډو سمندر نشته نو هُغه ځائے ته به اوبهٔ څنګه رسيږي؟ الله پاک ټرانسپورټيشن سسټم [يعنې د يو ځائے نه بَل ځائے ته وړو راوړو نظام] جوړ کړو، سيلی وريځې وړې او هلته ځي، چرته چې سمندر نهٔ وي هلته دا اوبهٔ وريږي، بيا اوبهٔ لاندې خو راغلې خو يوه بله مسئله ده، څومره چې زمونږه ضرورت وو، هُغه همره استعمالوو، باقي خو ضائع کيږي-

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک د قدرتونو نه قربان شم--!! هُغه رَبِّ کريم زمکې له دا صلاحيت ورکړے دے چې زمکه اوبهٔ راښکي، بيا د زمکې دننه اوبه جمع کيږي، زمونږه چې کله هم ضرورت وي، مونږ د بور پهٔ ذريعه اوبهٔ راوباسو، بيا چې د دُنيا څومره هم يخې علاقې دي، دا باران چې کله هلته کيږي نو اوبهٔ واوره کيږي او جمع کيږي، ګليشيئر ترينه جوړيږي، پهٔ يخنی کښې اوبهٔ کمې پکار وي، زمونږه ګزاره کيږي خو چې کله پهٔ ګرمی کښې د اوبو

---

1 ... رسائل امام غزالی، الحکمة فی مخلوقات الله عزوجل، باب فی حکمة خلق الله، صفحه: 14 خلاصةً۔

ضرورت زيات شي، هُغه واوره وِيلې کيږي، ابشارونه ترينه جوړيږي، وَلې ترينه بهيږي، نهرونه ترينه بهيږي، د دريابونو پۀ ذريعه مختلفو سيمو ته اوبۀ رسولے کيږي-

اَللهُ اَکْبَر! مونږ ته چې د وَلو پۀ ذريعه، د کوهيانو پۀ ذريعه، د موټر پمپ پۀ ذريعه اوبۀ ميلاؤيږي، دا ټولې اوبۀ مونږ ته هم د باران پۀ ذريعه رارسي- دا څومره فراخه نظام دے کوم چې رَبِّ کائنات جوړ کړے دے، هم دا نعمت دے د کوم پۀ باره کښې چې الله پاک فرمائي:

وَّ اَنْزَلَ مِنَ السَّمَآءِ مَآءً (پاره:1، سورۂ البقره:22)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغۀ د اسمان نه اوبۀ را او وروليې-

الله! الله! هم هغۀ رښتونے خُدائے دے، کوم چې د اسمان نه اوبۀ را او وروليې پۀ کروړونو، اربونو، کهربونو مخلوقات دي، د دې ټولو د ضرورتونو مطابق روزانه اوبۀ رسيږي، لږ ووايئ چې د الله پاک نه علاوه څوک شته کوم چې داسې فراخه نظام جوړ کړي---؟؟ نا، نا---!! داسې څوک هم نشته، دا هُم د يو رښتوني خُدائے پاک قُدرت دے، او پۀ چا کښې هم داسې طاقت نشته-

خلقت جب پانی کو ترسے، رِم جھم، رم جھم برکھا برسے
ہر اِک پر رحمت کی نظر ہے، یااللهُ! یاالله! (1)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! دا د الله پاک قدرتونه دي، پۀ دې باندې چې څومره غور کوئ، صرف هُم حيرانتيا به مو زياتيږي، د انسان عقل حيران پاتې شي چې دا څومره عظيم قدرتونه دي، کوم چې زمونږ نه ګير چاپيره موجود دي، مونږه دې ته ګورو، دا نعمتونه استعمالوو، دا ټول نعمتونه، د کائنات ذره ذره ګواهي ورکوي چې د کائنات خالق، د کائنات مالِک، رښتونے خُدائے، پۀ حقيقت کښې د عبادت لائق صرف

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:92-

هم يو دے، د كوم ښكلے خوږ نوم چې الله دے۔

د عربی يو شاعر وئيلي دي:

وَفِي كُلِّ شَيئٍ لَهٗ آيَةٌ | تَدَلُّ عَلىٰ اَنَّهٗ وَاحِدٌ

**ترجمه:** پۀ هر څيز كښې د هغه د قدرت نخښې دي، هر څيز وائي چې هغه يو رښتونے خُدائے دے۔

| | |
|---|---|
| اللہ واحد و یکتا ہے | ایک خدا بس تنہا ہے |
| کوئی نہ اس کا ہمتا ہے | ایک ہی سب کی سنتا ہے |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه

| | |
|---|---|
| ہر ہر ذَرَّہ ہر قطرہ | شاہِد ہے ہر ہر لمحہ |
| اس کی قدرت و صنعت کا | یکتائی و وَحْدَت کا |

لَآاِلٰهَ اِلَّااللّٰه، اٰمَنَّا بِرَسُوْلِ اللّٰه[1]

## د اِمامِ شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه يوه مختصره مُنَاظَره

يو ځل د اِمامِ شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له يو څو غير مسلمه راغلل، هغوئي د اِمامِ شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه پوښتنه وكړه:چې دا راته ووايئ چې د خُدائے د وجود څۀ دليل دے؟ (كيدے شي چې اِمام شافعي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه هغه وخت د شاتوت د وَنې پۀ خوا كښې ناست وو، ځكه يې) وفرمائيل: هُم دا د شاتوت وَنه زما د قادِر او قَيُّوم الله پاک د وجود دليل دے۔ غير مسلمه ووئيل: هغه څنګه؟ اوئې فرمائيل: وګورۀ! د دې شاتوت پاڼې چې هوسۍ وخوري نو د دې نه مشک جوړ شي، د دې پاڼې كه چيلۍ وخوري نو پې ترينه جوړ شي او د دې پاڼې كه د ريښمو چينجے وخوري نو د هغې نه ريښم جوړ شي فَمَنِ الَّذِیْ جَعَلَ هٰذِهِ الْاَشْيَاءَ كَذَالِكَ مَعَ اَنَّ الطَّبْعَ وَاحِدٌ نو هغه خوک دے كوم چې هم يوې پاڼې ته دومره شكلونه عطا كوي، حالانكې

---

1 ... سامانِ بخشش، صفحه: 3332 بتقديم و تاخير۔

پانړه يوه ده، د دې طبيعت يو دے، (مټيريل يو دے، بس د خوراک کولو والا ځناور بدليږي نو د دې پاڼې نه تياريدونکي څيزونه هم بدليږي- بس چې کوم ذات د يوې پاڼې نه کله مشک، کله پيۍ او کله ريښم جوړوي، هغۀ ته خُدائے وئيلے شي)، پۀ دې ښکلي دليل اوريدو هُغه غير مسلمو فوراً کلمه ووئيله او مسلمانان شول- [1]

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آرہا ہے، وہی خدا ہے
سفید اُس کا، سیاہ اُس کا، نفس نفس ہے گواہ اُس کا
جو شعلۂ جاں کو جلا رہا ہے، بجھا رہا ہے، وہی خُدا ہے

## اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه او د خُدائے نه اِنکاري

اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډير عقلمند وو، کوم خلق چې د خپلې بے وقوفۍ او د بے عقلۍ پۀ وجه د خُدائے پاک د وجود نه اِنکار کوي، کوم چې وائي چې دُنيا هم پخپله جوړه شوې ده او هُم پخپله روانه ده، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د خپلو دليلونو پۀ ذريعه د هغوئي ژوند تنګ کړے وو، ځکه دا خلق کومو ته چې دهريان وئيلے شي، د اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د سر دښمنان جوړ شول، يو ځل اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه پۀ جومات کښې يواځې وو، دهريانو چې موقع بيا موندله نو تورې يې راويستې او د هغوئي د شهيد کولو د پاره ور ورړاندې شو، اِمامِ اعظم رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه ډير پۀ اِطمينان سره وفرمائيل: زما د يوې پوښتنې جواب راکړئ! بيا چې څۀ کول غواړۍ اوئې کړئ- هغوئي ووئيل: وايئ! څۀ پوښتنه ده؟ اوئې فرمائيل: زۀ دا وخت پۀ ډير لوئي سوچ کښې يم، يوه ډيره غټه کشتۍ ده پۀ کومه کښې چې قِسما قِسم تجارتي سامان دے، خو نۀ څوک د هغې څارنه کوونکے شته، نۀ چلولو والا شته ، د دې باوجود هُغه کشتۍ مسلسل پۀ سمندر کښې سفر کوي، د

1...تفسيرِ کبير، پاره:1، سورۀ بقره، زيرِ آيت:2221، جلد:2، صفحه:333-

سمندر پۀ طوفاني چپو کښې روانه ده او تيريږي، د ودريدو پۀ ځائے کښې ودريږي او د تللو پۀ ځائے کښې روانيږي- بيا هُغه دهريان کوم چې د هغوئي د شهيد کولو د پاره راغلي وو، پۀ زوره ووئيل:دا تاسو په څۀ سوچ کښې پريوتي يئ، آيا څوک عقلمند اِنسان داسې سوچ کولے شي؟ دومره غټه کشتۍ د تجارتي سامان سره، پۀ طوفاني سمندر کښې بغير د چلولو والا نه څنګه ګرځيدے شي؟ اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه وفرمائيل: بس هم دا خو زۀ وايم- چې يوه وړه شان کشتۍ بغير د چلولو والا نه نشي چليدے نو دا ټوله دُنيا، زمکه او اسمان، نمر، سپوږمۍ ستوري، هر څۀ خپل کار کوي، پۀ پابندۍ سره پۀ وخت باندې موسمونه بدليږي، پۀ وخت باندې شپه راځي، پۀ وخت باندې ورځ راځي نو دا دومره لوئي کائنات بغير د خالِق او مالِک نه څنګه چليدے شي؟ پۀ دې خبره اوريدو هُغه خلقو کوم چې د شهيد کولو د پاره راغلي وو، ټولو کلمه ولوستله او مسلمانان شول- (1)

کوئی تو ہے جو نظامِ ہستی چلا رہا ہے، وہی خدا ہے
دکھائی بھی جو نہ دے، نظر بھی جو آرہا ہے، وہی خدا ہے

## د اِنسان د خواهشاتو شوکۍ کوونکے ذات

دغه شان يو ځل د اِمامِ اعظم رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه نه پوښتنه وشوه چې: اللّٰه پاک شته، پۀ دې باندې څۀ دليل دے؟ هغوئي وفرمائيل: تاسو نۀ دي ليدلي چې د مور او پلار خواهش وي چې زمونږ ځوي پيدا شي؟ خو د هغې اُلټا وشي او جينۍ پيدا شي، کله د مور او پلار خواهش وي چې جينۍ پيدا شي خو هلک پيدا شي، بس هُغه ذات کوم چې د انسان د خواهش پۀ شوکيدارۍ کولو د خپل قُدرت اِظهار کوي، هغۀ ته اللّٰه وئيلے شي- (2)

کسی کو سوچوں نے کب سراہا ، وہی ہوا جو خدا نے چاہا
جو اختیارِ بشر پہ پہرے بٹھا رہا ہے، وہی خدا ہے

---

1...تفسيرِ کبير، پارہ:1، البقرہ، زيرِ آيت:22، جلد:1، صفحہ:333۔
2...تفسيرِ کبير، پارہ:1، البقرہ، زيرِ آيت:22، جلد:1، صفحہ:333۔

# سمندر کښې اُميد په چا پورې تړل پکار دي ---؟

د اهلِ بيتِ پاک د مشهور او معروف شخصيت حضرت اِمامِ جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خوا له يو ځل يو دَهريه (يعنې د خُدائے د وجود نه اِنکاري کَس) راغلو، اِمامِ جعفر صادق رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د هغهٔ نه پوښتنه وکړه: آيا تا چرته په سمندر کښې سفر کړے دے؟ اوئې وئيل: آؤ جي! کړے مې دے- اوئې فرمائيل: د هغې تفصيل بيان کړه! بيا هُغه دهريه ووئيل: يوه ورځ د سمندر د سفر په وخت سخته خطرناکه طوفاني سيلۍ راغله، چې له وجهې يې کشتۍ هم ماته شوه او ماڼکے هم ډوب شو او مړ شو، ما د ماتې شوې کشتۍ يوه تخته ونيوله او د سمندر په طوفاني چپو کښې مې سفر شروع کړو، اخر د سمندري چپو په وجه تخته هم زما د لاس نه خلاصه شوه، بيا ما بے د څهٔ اسرې نه په دومره لوئې سمندر کښې لامبو وهله، اخر د سمندر چپو زهٔ غاړې ته راوغورځولم (او زما ژوند بچ شو)- په دې وئيلو اِمامِ جعفر صادِق رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: چې کله تهٔ سمندر ته کوز شوې نو ستا په کشتۍ او ماڼکي باندې اعتماد وو چې د دوئي په وجه به زهٔ د سمندر نه پورې وځم، بيا چې کله کشتۍ ماته شوه نو ستا د کشتۍ په يوه تخته باندې باور وو چې د دې په ذريعه به غاړې ته ورسيږم، بيا چې دې هُغه تخته هم د لاس نه ووتله او تهٔ بالکل بے اَسرې پاتې شوې، آيا هُغه وخت هم ستا د بچ کيدو څهٔ طمع وه؟ اوئې وئيل: آؤ جي! زما طمع وه- اِمامِ جعفر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: هُغه وخت خو څهٔ اَسره موجود نهٔ وه ، هُغه وخت دې په چا باندې اعتماد وو؟ د چا په باور ستا د بچ کيدو اُميد وو؟ بيا هُغه کَس خاموشه شو- اِمامِ جعفر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وفرمائيل: په هُغه خطرناک حالت کښې هم ستا د نهٔ غوښتلو باوجود چې ستا کوم اُميد وو، په کومه هستۍ باندې چې دې باور وو، هغه ته خُدائے وئيلے شي، هغهٔ تهٔ د ډوبيدو نه بچ کړے يې- د هغوئي د حکمت نه دا ډکه خبره چې يې واوريدله نو هُغه کَس کلمه ووئيله او مسلمان شو- (1)

---

1...تفسيرِ کبير، پاره:1، البقره، زيرِ آيت:22، جلد:1، صفحه:333۔

نظر بھی رکھے، سماعتیں بھی، وہ جان لیتا ہے نیتیں بھی
جو خانۂ لاشعور میں جگمگا رہا ہے، وہی خدا ہے

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! خُلاصه دا ده چې د دې دُنيا پۀ ذره ذره، زمکه، اسمان، سپوږمۍ، نمر، ستورو، ميوو، ګلونو، بوټو، غټو غټو ونو، پۀ بهيدونکو سيندونو، چپو وهونکو سمندرونو، پخپله زمونږ پۀ وجود، زمونږه پۀ ساه کانو، زمونږه پۀ لاسونو، ښپو او نورو اندامونو که مونږه غور وکړو نو دا هر څۀ د الله پاک د وجود او د هغۀ د يو والي واضحه دليلونه دي، بس خلق غور ډير کم کوي- بهر حال! الله پاک شته، هم يو دے، هم هغه رښتونے خُدائے دے، هم هغه خالق دے، هم هغه مالِک دے، هم هغه يو رښتونے خُدائے د عبادت لائق دے-

تُو ہی مالِک بحر و بَر ہے، یَااللّٰہ! یَااللّٰہ!
تُو ہی خالِق جن و بَشر ہے، یااللّٰہُ! یااللّٰہ!
وَصف بیاں کرتے ہیں سارے، سنگ و شجر اور چاند ستارے
تسبیح ہر خُشک و تَر یااللّٰہُ! یااللّٰہ! (1)

## د سوچ يوه خبره

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اوس دلته د سوچ يوه خبره ده، هغه دا چې الله پاک زمکه جوړه کړه، د څۀ د پاره؟ زمونږ د پاره- اسمان يې جوړ کړو، د څۀ د پاره؟ زمونږ د پاره، د وريځو نظام يې جوړ کړو، باران يې را او ورولو، ميوې، ګلونه، بوټي يې را زرغون کړۀ، دا ټول کائنات يې جوړ کړو، د څۀ د پاره؟ زمونږ د فائدې د پاره خو د سوچ خبره دا ده چې الله پاک مونږ د څۀ د پاره پيدا کړو؟ رَبِّ کائنات فرمائي:

---

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:92 ملتقطًا-

وَ مَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَ الْاِنْسَ اِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ ﴿۵۶﴾ (پارہ:27، سورۃ الذاریات:56)

ترجمہ کنزُالعِرفان: او ما پيريان او انسانان هُم د دې د پاره پيدا کړي دي چې زما عبادت کوي-

الله! الله! معلومه شوه چې ټول کائنات جوړ کړے شو، زمونږ د پاره او مونږ جوړ کړے شو د عبادت د پاره-

| | |
|---|---|
| جانور پیدا کئے تیری وفا کے واسطے | چاند، سورج اور ستاروں کو ضیاء کے واسطے |
| کھیتیاں سر سبز کیں تیری غذا کی واسطے | سب جہاں تیرے لئے ہے تُو خدا کے واسطے |

بيا غور وکړئ! ❀ زمکه زمونږ د پاره جوړه کړے شوه، مونږ ته فائده رارسوي؟ آؤ جي! رارسوي ❀ اسمان زمونږ د پاره جوړ کړے شو، مونږ ته فائده رارسوي؟ آو جي! رارسوي ❀ دغه شان سيلۍ، وريځې، باران، اوبۀ، ميوې، ګلونه، بوټي وغيره دا هر څۀ چې د کوم مقصد د پاره جوړ کړے شو، دا ټول خپل مقصدونه پوره کوي؟ آؤ جي! بالکل يې پوره کوي--!! **بيا سوچ وکړئ چې آيا مونږه خپل مقصد پوره کوو؟** مونږ د عبادت د پاره پيدا کړے شو، د اطاعت د پاره پيدا کړے شو ❀ چې مونږ نمونځونه وکړو ❀ تلاوت وکړو ❀ د الله او د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمانبرداره بندګان جوړ شو ❀ د خپلوانو سره ښيګړه وکړو ❀ د ګاؤنډيانو خيال وساتو ❀ د مسلمانانو وروڼو سره نيک سلوک وکړو، په نيکو کارونو کولو په دُنيا کښې کامياب او په اخرت کښې د جنَّت حقداران جوړ شو، مونږه دې د پاره پيدا کړے شو، آيا مونږ دا مقصد پوره کوو---؟؟

افسوس چې د دُنيا هر يو څيز په خپل خپل کار کښې مصروف دے خو يو اِنسان دے کوم چې خپل مقصد هير کړے دے او په نورو کارونو کښې اخته دے-

## د ټولو نه اهم کار کوم يو دے؟

مشهور صوفي بُزرګ مولانا جلال الدين رومي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: که بادشاه تاسو د څۀ

خاص كار د پاره چرته ولیږي او ته پۀ لاره کښې نور ډېر کارونه وکړې خو هٔغه خاص كار د کوم د پاره چې بادشاه لیږلے یې هٔغه كار هیر کړې نو آیا بادشاه به ستا نه خوشحاله شي؟ هیڅکله هم نۀ، بس څکه که پۀ دُنیا کښې انسان هر یو کار هیروي نو هیر دې یې کړي خو یو کار دے کوم چې هیڅکله هم نۀ دي هیرول پکار او هٔغه یو کار څۀ دے؟ د الله پاک عبادت کول- کۀ تۀ ووائې چې زۀ دا یو کار (یعني عبادت) نۀ کووم نو نۀ سهي خو نور ډېر کارونه خو کووم، یاد ساتۀ چې انسان د نورو کارونو د پاره دُنیا ته نۀ دے راغلے، دا خو داسې ده چې تۀ ډېره قیمتي د اوسپنې نایابه توره کومه چې صرف پۀ شاهي خزانو کښې میلاؤیږي، حاصله کړې او د هغې نه د غوښې پرې کولو چاړه جوړه کړې او ووائې چې ما دا بے کاره نۀ ده ساتلې- آیا دا د افسوس مقام نۀ دے؟ د غوښې پرې کولو د پاره خو معمولي چاړه هم اِستعمالیدے شي، دې د پاره د دومره قیمتي تورې استعمالول آیا د عقل خبره ده---؟ اے انسانه! الله پاک ستا ډېر لوئې قیمت ایښودے دے- ارشاد دے:

| | |
|---|---|
| اِنَّ اللّٰهَ اشْتَرٰى مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْفُسَهُمْ وَ اَمْوَالَهُمْ بِاَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ ؕ (پارہ:11، سورۃالتوبۃ:111) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: بے شکه الله د مسلمانانو نه د هغوئې ځانونه او د هغوئې مالونه پۀ دې بدله کښې پۀ بیعه واخستل چې د هغوئې د پاره جَنَّت دے- |

وګوره! الله پاک تۀ، ستا وخت، ستا ځان، ستا مال او کاروبار اخستي دي چې دا څیزونه د هغۀ پۀ لاره کښې خرچ کړې نو ستا د پاره همیشه پاتې کیدونکے جنَّت دے، د الله پاک سره ستا دومره قیمت دے، که ځان د دوزخ پۀ بدله خرڅ کړې نو پۀ خپل ځان باندې ظُلم کوونکے یې- (1)

فرشتوں سے بہتر ہے انسان بننا | مگر اس میں لگتی ہے محنت زیادہ

---

1... فِيْهِ مَافِيْهِ، صفحه:8۔

# څوک چې خپل مقصد نهٔ پوره کوي هغهٔ بے کاره وي

د قرآنِ کریم مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَیۡه مونږه د یو مثال پهٔ ذریعه پوهه کوي او فرمائي: د دُنیا هر یو څیز د څهٔ نا څهٔ مقصد د پاره جوړ شوے دے، څوک چې د هغې خلاف دا اِستعمالوي، هغهٔ ته لیونے، دیوانه وئیلے شي، څوک چې ټوپۍ پهٔ ښپو کوي او پیزار پهٔ سر باندې ږدي هغهٔ خو هم لیونے دے، دغه شان چې کوم یو څیز خپل مقصد نهٔ پوره کوي، هغه بے قیمته او بے کاره وي، که ګړۍ وخت نهٔ ښائي نو د غورځولو لائقه ده او که چیلۍ، غوا یې وغیره نهٔ کوي نو پهٔ قصاب باندې خرڅولے شي، بس انسان هم د عبادت د پاره پیدا کړے شوے دے، که د دې مقصد نه خلاف ځي نو لیونے هم دے او بے کاره هم۔

نور فرمائي: که مونږه د خپل ژوند مقصد پوره نهٔ کړو نو پوهه شئ چې نمرود کله د خُدایۍ دعویٰ وکړه نو ماشے د هغهٔ دماغو ته لاړو او دومره یې پریشانه کړو چې شپه ورځ به د هغهٔ سر پهٔ پیزار وهلے کیدو، هُغه بد بخته خپل دماغ د مقصد خلاف اِستعمال کړهٔ، د عبادت کولو پهٔ ځائے، [پهٔ نورو] د خپل عبادت کولو خواهش مند شو نو کوم پیزار چې پهٔ ښپو کولے شي، د ښپو پهٔ ځائے د هغهٔ سر ته ورسیدو، د چا پهٔ سَر کښې چې د عبادت خیال وي پهٔ هغې باندې تاج وي او د چا پهٔ سَر کښې چې د نفس خواهشات وي، پهٔ هغې باندې پیزار وي۔ (1)

زِندگی آمد برائے بندگی | زِندگی بے بندگی شرمندگی

**وضاحت:** دا ژوند مونږ ته د الله پاک د عبادت د پاره میلاؤ شوے دے او که مونږه عبادت اونهٔ کړے شو نو دا ژوند، ژوند نهٔ دے بلکې شرمندګي ده۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب ❀❀❀ صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1...مَواعظ نعیمیه، صفحه:5957 خلاصةً۔

## د اِنسان اصلي عزت څۀ دے؟

د اعلیٰ حضرت، امامِ اهلِسُنَّت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه والدِ محترم، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه فرمائي: د ټولو کمالونو اصل عبادت دے او د اِنسان اصلي عزت هُم د الله پاک په بارګاه کښې په سر ښکته کولو کښې دے، (1) په **حديثِ پاک** کښې دي: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله څوک چې د الله پاک د پاره ښکته شي، الله پاک هغۀ ته اوچت والے عطا کوي- (2) په 22 سيپاره، سُورَةُ الفَاطِر، آيت: 10 کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلِلّٰهِ الْعِزَّةُ جَمِيْعًا ط (پاره:22، سورۂ الفاطر:10) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: څوک چې د عزت طلب ګار وي نو ټول عزت هُم الله سره دے- |

د دې آيت په تفسير کښې حضرت قتاده رَضِىَاللهُعَنْهُ فرمائي: مَنْ كَانَ يُرِيْدُ الْعِزَّةَ فَلْيَتَعَزَّزْ بِطَاعَةِ الله څوک چې عزت غواړي، هغه دې د الله پاک په اِطاعت کښې طلب کړي يعنې عزت د الله پاک په بندګۍ سره حاصليږي- (3)

## وايه تا د رَبّ د پاره څۀ وکړل---؟

يو ځل حضرت شيخ شبلي رَحْمَةُاللهِعَلَيْه خلقو ته نصيحت کولو، هغوئي د قيامت د ورځ، د حساب او کتاب وغيره په باره کښې بيان وفرمائيلو، خلقو چې د هغوئي بيان واوريدو نو په چغو چغو په ژړا شو، په دغه وخت کښې حضرت ابو الحسن نُوري رَحْمَةُاللهِعَلَيْه په هغه ځائے تيريدو، هغوئي وفرمائيل: اے شبلي! د قيامت حساب به ډير اوږد وي، د هغې خُلاصه صرف دا دوه خبرې دي: وه به فرمائيلے شي: (1): مَنْ تُرَا بُوْدَمْ (2): تُو کرَا بُوْدِی يعنې اے بنده! مونږه خو ستا وو (چې مونږه ستا د پاره هر څۀ جوړ کړه)، اوس تۀ ووايۀ چې تۀ د چا وې---؟ تا ژوند

---

1...انوارِ جمالِ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم، صفحه: 323 ملخصًا-

2...كَنْزُ الْعُمَّال، كتابُ الْاَخْلاق، جز: 3، جلد: 2، صفحه: 50، حديث: 5732-

3...تفسير خازن، پاره: 22، سورهٔ فاطِر، زير آيت: 10، جلد: 3، صفحه: 453-

د چا پهٔ طلب کښې تير کړو؟

فلک کا تجھے شامیانہ دیا، زمیں پر تجھے آب و دانہ دیا
ملے آبشاروں سے بھی حوصلے، پہاڑوں میں تجھ کو دیئے راستے
یہ پانی، ہوا اور یہ شمس و قمر، یہ موجِ رواں، یہ کنارہ، بھنور
یہ بارش، یہ سردی، یہ گرمی، یہ دُھوپ
یہ چہرہ، یہ قد اور یہ رنگ و رُوپ
اور اس پر کتابِ ہدایت بھی دی، نبی بھی اُتارے، شریعت بھی دی
غرض کہ سبھی کچھ ہے تیرے لئے، بتا کیا کِیا تو نے میرے لئے؟

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له سوچ کول پکار دي چې د الله پاک پهٔ مونږ باندې خومره انعامونه دي، هغهٔ مونږ ته بغير د غوښتلو، بغير د طلب کولو خومره هر څهٔ راعطا کړي دي- مونږ د هغهٔ خومره شُکر ادا کوو؟ د هغهٔ پهٔ حضور کښې خومره ښکته کيږو؟ يقيناً چې هغه بے نيازه دے، د هغهٔ زمونږه سجدو، زمونږه شُکر، زمونږه عبادتونو ته هيڅ حاجت نشته خو مونږ خو بنده ګان يو، زمونږه خو حق دے چې د هغه اطاعت او فرمانبرداري وکړو، د هغه حکم ومنو او صرف او صرف د هٔغه يو حقيقي ربنتوني خُدائے پهٔ عبادت کښې ژوند تير کړو- الله پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم۔

| | |
|---|---|
| رہے ذِکر آٹھوں پہر میرے لب پر | ترا یااِلٰہی! ترا یااِلٰہی! |
| مری زِندگی بس تیری بندگی میں | ہی اے کاش! گزرے سدا یا اِلٰہی! |
| نہ ہوں اشک برباد دُنیا کے غم میں | مُحَمَّد کے غم میں رُلا یااِلٰہی! (1) |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ علٰى مُحَمَّد

1 ...وسائلِ بخشش، صفحه:106۔

# د ماهنامه فيضانِ مدينه ايپلي کيشن تعارف

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم د دعوتِ اسلامي آئي ټي ډيپارټمنټ يو ډير ښکلے موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے: ماهنامه فيضانِ مدينه (***Mahnama Faizan e Madina***) په دې ايپلي کيشن کښې اوسه پورې جاري شوې ټولې ماهنامې د ***P.D.F*** په شکل کښې موجودې دي، د دې نه علاوه ❀ د ټولو ماهنامو مضامين (آرټيکلز) په ليکلي شکل کښې موجود دي، کوم چې د کاپي کولو سره شيئر کيدے هم شي ❀ د اسانۍ د پاره سرچ آپشن (***Search option***) هم ورکړے شوے دے، د کوم په مرسته چې د ماهنامې څۀ مضمون وغيره لټولے کيدے هم شي- تاسو هم دا ايپلي کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال (***Install***) کړئ او نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب ❀❀❀ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

راځئ چې د بيان په اخره کښې يوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحيح څۀ دي؟

(د صحيح شرعي مسئلې يا په خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ په ګوته کول)

**مسئله:** د صَفَرُ الْمُظَفَّر په مياشت کښې هيڅ يو جائز کار مثلاً واده کول وغيره سپيرۀ کار نۀ دے-

**وضاحت:** په عوامو کښې يوه غلطي دا هم ده چې بعضې خلق په دې مياشت کښې کار کول نقصان او سپيرۀ ګڼي، په اصل کښې داسې نۀ ده- د صفرې په مياشت کښې واده يا بَل هر يو جائز کار کولے شئ، په شريعت کښې د دې نه هيڅ منع نشته او په دې مياشت کښې کار کول نقصان او سپيرۀ ګڼل غلط او بے اصله خبره ده او داسې سوچ به د جهالت په زمانه کښې وو د کوم نه چې اِسلام منع وفرمائيله-

پۀ صَفَرُ المُظَفَّر کښې د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم طبيعت نا سازه شوے وو خو پۀ دې وجه دې مياشتې ته سپيرۀ نۀ شې وئيلے که داسې وې نو پۀ کومه مياشت کښې چې رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ظاهري وصال شريف وفرمائيلو بيا به هغه ډيره سپيرۀ ګڼلے شي کوم چې سراسر باطله خبره ده- (1)

الله پاک دې مونږ ته د صحيح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ دې باندې د عمل کولو توفيق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنٰی برکتونه (وظيفه)

### يَا خَبِيرُ

څوک چې د نَفسِ اَمَّارَه پۀ لاس کښې ګير وي نو هغۀ دې د يَا خَبِيرُ هره ورځ وظيفه کوي اِنْ شَآءَ اللہُ الْکَرِیم! نجات به حاصل کړي- (2)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم -

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب ❀❀❀ صَلَّی اللہُ علٰی مُحَمَّد

---

1 ... مختصر فتاویٰ اہلسنت، قسط:1، صفحه:219، فتاویٰ نمبر:192 بتغير قليل۔
2 ... مدنی پنج سورہ، صفحہ:250۔